مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

واحد فقيري

۲۰۱۸/۰۷/۰۶

# د زهير زنداني، ناکامه مينه

زهير احمد زنداني فقط ۱۷ کلن وو چي په دواړو سترګو تپ ړوند سو. کله چي هغه د روغتون پر بستر پروت وو، هغه له خپل ډاکټره د هيندارې غوښتنه وکړه. خو ډاکټر ورته وويل:«زويه! ته نور دا دنيا نه سي ليدلای، ته ړوند سوی.» زهير احمد زنداني خپلي سترګي د سرک د غاړي د بم په يوې چاودني کي له لاسه ورکړې.

د زهير احمد په ژوند کي دا حادثه پنځه کاله پخوا پيښه سوه. هغه وايي کله چي زه پوه سوم چي ړوند سوی يم، ما سخت وژړل، ځکه ما د يوې پيغلي سره مينه لرله، او اوس چي زه ړوند سوی وم، زما د ميني کيسه هم راسره ختمه سوې وه. زهير احمد وايي:«که چيري ما خپلي سترګي بايللي وای، خو هغه راسره وای، زه به بيا هم خوشحاله وای. خو اوس نه زه سترګي لرم، او نه هم د هغي لاس راسره دئ.»

ښاغلی زنداني د سولي ولسي کاروان له موسيسنو څخه دئ. هغه ۴۰۰ ميله پياده له هلمنده تر کابل پوري مزل کړی دئ. هغه د يوه داسي جنګ پر ضد راپورته سوی دئ چي د هغه پلار، اکا، خور، او معشوقه ئې تري اخيستي دي. ښاغلی زنداني اوس ۲۲ کلن دئ. هغه تل په يوه کونج کي ناست وي، او مدام په فکرونو کي ډوب وي. هغه په عادت ټک کوي، او کله نا کله ئې د خپل يوه ملګري پر اوږه باندي لاس ايښی وي. د هغه نژدې يار ښاغلی نعمت الله کتاب دئ. ښاغلی کتاب ځکه د کتاب تخلص غوره کړی دئ چي ليک او لوست نه سي کولای.

ښاغلی زنداني خپله هم بې سواده دئ. مګر يو خوږمن شاعر دئ. هغه خپل اشعار په ۵۰ صفحو کي راغونډ کړي دي، او کله چي شعر ويلو ذوق ورسي، نور ئې ورته ليکي. د ښاغلی زنداني يو شعر د خپل غمجن ژوند او ناکامي ميني داستان داسي بيانوي:

حتی تر مرګ راوروسته، زما سترګي پټي نه سوې
ځکه ما دروازې ته کتل، او تا ته مي انتظار ايست.

کله چي ښاغلی زنداني د خپل ژوند او ميني داستان بيانوي، هغه د دې لپاره ځيني داسي ښکلي تصويرونه تمثيلوي چي د انسان زړه کبابوي، او عالمونه ژړوي. کله چي زهير زنداني ۷ کلن وو، هغه د خپلي کورنۍ سره په لښکرګاه کي ژوند کاوه. هغوی په خپله کرونده کي کوکنار او غنم کرل، او د انګورو باغ ئې لاره. يوه ورځ، د هغه پلار او اکا پخپله مځکه کي د پيازو په کرلو اخته ول چي امريکايانو بمبار کړل. زنداني وايي: «زما د پلار او اکا جسدونه ټبخي ورک سوي ول، حتی پر مځکه باندي وينه هم نه ليدل کېده. هلته يوه لويه کنده جوړه سوې وه. بس خاوري او دوړي وې.»

د هغه پلار، غلام ولي، فقط ۲۹ کلن وو چي امريکايانو قتل کړ. هغه يو ځګ ځوان وو، او يوه وړه ږيره ئې لرله. ښاغلی زنداني وايي: «د جنازې او فاتحي په جريان کي، خلګو به زما پر سر باندي لاس تېروی، او ما ته ئې پيسي راکولې. زه نه پوهېدم چي ولي خلګ ماته پيسي راکوي. زه ببرېدم چي هسي نه چي زما پلار راپورته سي، او پر ما باندي په قهر سي چي ولي مي پرته له اجازې څخه د هغه له ملګرو څخه پيسي قبولي کړي دي.» هغه وايي،«ما ودونه ليدلي ول،خو جنازې مي نه وې ليدلې.»

لدې غمجني پيښي راوروسته، د ښاغلی زنداني فاميل کندهار ته کډه وکړه. په کندهار کي د هغوی خپلوان ول، او هغوی يوه ۷ کلنه ماشومه لور لرله. ښاغلی زنداني به د نورو ماشومانو او له همدې ماشومي سره د پتېډنګ لوبه کوله. او ښاغلی زنداني به مدام د همدې ماشومی سره قصدا په يوه ځای کي پټ ناست وو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

هغه وايي: «زما د هغې خبرې خوښېدلې. د هغې بوی مې خوښېدی. ما به تل د هغې سره يو ځای قدم واهه. زه به مدام لکه سيوری د هغې سره وم. موږ نه بېلېدونکي وو.»

پدې و خت کې، ښاغلی زنداني د يوه مستري سره شاګرد سو. خو هر کله چې به د زنداني مور د خپلو دوستانو کره تلله، زنداني به هم د خپلې معشوقې د ليدو لپاره ورسره مل و. کله چې ښاغلی زنداني پدې پوه سو چې واقعا له هغې سره مينه لري، دوی دواړه ۱۲ کلن ول. هغه وايي: «يوه ورځ موږ دواړه د يوه دوکان پر لور روان وو. کله چې ما د هغې لاس ونيو. هغې راته وخندل، او زما لاس ئې هم ونيو.»

ښاغلی زنداني وايي کله چې به د مستري په شاپ کې د کوم موټر تر بانټ لاندې وم، ما تل د هغې په باره کې فکر کاوه، او له ځانه سره به مې هغه خبرې تکرارولې چې بايد هغې ته ئې ووايم. هر وخت چې به کوم فرصت برابر سو، ښاغلی زنداني به د هغې ليدو ته ورتی. عموما به ئې سوغاتونه هم له ځان سره ور وړل.

د هغې مور د ښاغلي زنداني او خپلې لور په مينه پوهېدله، او مدام به ئې په مسکا ويله: «څه چې په قسمت کې ليکل سوي وي، هغه کېږي.» مګر د هغې پلار، چې شتمن سړی وو، ګومان ئې کاوه چې زنداني مناسب هلک نه دئ. ځکه زنداني د بل قوم هلک وو، او د مستري يو خوار شاګرد وو.

مګر زنداني په زړه کې پوهېدی چې لاس ئې بر دئ، ځکه د هغې زړه ئې ګټلی وو. هغې مينه ورسره لرله. هغه پوهېدی چې هر څونه چې د هغوی مينه غښتلې کېږي، په هغه اندازه به ئې د پلار مخالفت کمزوری کېږي.

خو دا ټول اميدونه او خيالونه هله تباه سول چې زنداني ړوند سو.

يوه ورځ ښاغلی زنداني او ۱۵ کلنه خور ئې د خپلو دوستانو د ليدو لپاره د هرات په لور روان سول. پر زنداني باندي خپله خور نهايت ګرانه وه، ځکه هغه د زنداني په عشق خبره وه، او کله نا کله به ئې د رويبار نقش لوباوه. هغوی پر لاري روان ول چې د سړک د غاړې بم باندي پټاو سو.

هغه وايي: «کله چې زه ئې روغتون ته ورسولم، ما خپلې خور ته ناري وهلې، خو هغه نوره زموږ سره نه وه.»

لدې پېښې راوروسته، ښاغلي زنداني لا هم د خپلې مينې هيله په زړه کې لرله، خو د هغې کورنى ځرګند مخالفت وکړ. هغوی ورته وويل چې يو خو ته د بل قوم سړی ئې، او بل ړوند ئې. هغوی خپله لور يو بل چا ته ورکړه، او اوس هغه د يوه ماشوم مور ده.

ښاغلی زنداني د هغې نوم نه يادوي. خو د هغه دوستان او ملګري د ښاغلي زنداني د مينې کيسه تاييدوي. هغه وايي چې اوس هم کله نا کله په پټه د هغې سره په ټيلفون کې خبرې کوي، خو کوښښ کوي چې څوک خبر نه سي. مګر هغه تل غواړي چې د خپلې معشوقې له انرژي ډک اواز واوري. تير ورک يادونه راتازه کړي، او څه ور سره وخاندي.

آخر ځل چې ښاغلي زنداني د خپلې معشوقې سره ملاقات لاره، هغه وخت وو چې هغه ودېدله. دوی په برنډه کې دوه په دوه ناست ول. هغې د انارو جوس ورته راوړل. ښاغلي زنداني خپل يو شعر ورته ووايه:

زه حتی د اوبو له ښنولو څخه بېره لرم
ځکه ښايي زما په زړه کې زما د معشوقې نوم راپيکه کړي.

يو کرت هغې د ښاغلي زنداني د شعرونو کتابچه تري واخيسته. کله چې ئې کتابچه بېرته ورکړه، هغې ورته وويل چې څو ښه شعرونه ئې تر کاپي کړي دي.

د ناکامي مينې همدا تصويرونه د ښاغلي زنداني په زړه کې نقش سوي دي، او همدا دردناکه تصويرونه شپه او ورځ هغه په چورتونو کې ډوب ساتي.

هغه وايي: «وخت نا وخت زه يو ځای يوازي چيري ولاړ سم. په تيارو کې قدم وهم. کله يو شعر پای ته ورسوم، او بل راشروع کړم. کله نا کله زه په فکرونو کې ډوب سم. کله زه په خپلو خيالونو کې هغه د خپل ځان ګڼم، مګر داسي ښکاري چې زماني او حالاتو موږ ډير سره ليري کړي يو.»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

هغه یو لنډ مکث کوي او وایي: «مګر کله چي له خپلو خیالونو او خوبونو څخه راویښ سم، او کله چي خپل سر را اوچت کړم، زه هیڅ هم نه یم.»

کله چی د زنداني خیالونه او سوچونه پر هغه باندي غلبه وکړي، او هغه رامحاصره کړي، هغه مدام دا سوال له ځان سره کوي چي ایا په عشق کي ناکامي ښه ده،او که اصلا مینه ښه نه ده.

هغه وایي: «ما تر اوسه پوري د دې پوښتني جواب نه دي پیدا کړی.»

---

نوټ:

دا رپوټ د جون پر ۳۰ په نیویارک ټایمز کي خپور سوی وو. ی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ